
ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے

# عیسیٰ ړوند له شفا ورکوی



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson


خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries


مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.


برتلمائی يو ړوند وو، چې د يريحو په لاړ به خير غوښتلو
د پاره ناست وو. چې څوک مهربانه خلق به د هغۀ خوا نه
تيريدل نو څۀ سيکې يا د خوراک د پاره به يې څۀ ورکول.
برتلمائی کار نۀ شو کولے ځکه چې هغه ړوند وو. هغۀ
صرف خېر غوښتلے شو.



یوه ورځ په لاره ډېره ګڼه وه. برتلمائی د خلقو د تلو آوازونه واورې. څۀ ناآشنا غوندې کار وو. ډېر زر هغه ړوند سړی ته معلومه شی چې څۀ چل دے. د ناصرت عیسیٰ په ښار کښې وو. خلق د عیسیٰ مسیح لیدو او اورېدو د پاره راجمع کېدل.



برتلمائی په چغو ووئیل، اے عیسیٰ، د داؤد زویه په ما رحم
وکړه. هغه ولې دا سوچ کوی چې عیسیٰ مسیح د هغهٔ مدد
کولے شی؟ بهرحال، هغهٔ د نورو خلقو
په حقله اورېدلی وو چا له چې
عیسیٰ مسیح شفا ورکړې وه.
څهٔ ګونګیان وو، څهٔ کاڼهٔ وو،
او څهٔ معذوره وو. ځینې لکه د
هغهٔ په شان ړاندهٔ وو. برتلمائی
بیا بیا وئیل چې د داؤد زویه په
ما رحم وکړه. د هغهٔ په
آواز کښې یو اُمید وو.






د برتلمائی په یوه خبره
یقین وو. کۀ هغۀ ته
اوس مدد ملاؤ نۀ شو
نو بیا بله ورته کله هم
بله موقعه ملاو نۀ شی.
کېدے شی چې عیسیٰ
مسیح بیا هیڅ کله هم په
دغه لار تېر نۀ شی.




برتلمائی عیسیٰ مسیح
خواته ځان ورسوی.
خو خلق د لارې نه
نهٔ لرې کېدل. هغوئ
هغهٔ ته ووئیل چې
چپ شه.




خو برتلمائی نهٔ چپ کېدو. هغهٔ چغې
وهلې. ناڅاپه عیسیٰ مسیح ودرېدو.
واوری! حکم وکړی چې هغه ړوندے
زما خواته راولئ! خلق برتلمائی ته
ووائی، ډاډه اوسه. راپاڅه، هغه
دې غواړی.



هغه خپله چوغه یو طرف ته وغورزوی. برتلمائی راپاڅی
او عیسیٰ مسیح خواته لاړ شی.




عیسیٰ مسیح ترې تپوس وکړی، تهٔ زما نه څهٔ غواړې چې زهٔ یې ستا د پاره وکړم؟ تاسو دې د پاره څهٔ جواب ورکولے شئ؟ آیا تاسو به ترې نه د نوو جامو د پاره ښې ډېرې پیسې غواړئ؟ آیا برتلمائی هم دا غوښتل؟




نه، ړوند برتلمائی عیسیٰ مسیح سرهٔ زر یا ښې
جامې نهٔ غواړی. هغه ورته ووائی
چې تهٔ پوهیږې چې ما ته د
څهٔ ضرورت
دے.



اے مالکه، زهٔ بینا کېدل غواړم. برتلمائی غوښتل چې بینا شی! هغهٔ د خدائ پاک د تخلیق ښکلا، مارغان او ونې بوټې لیدل غوښتل. هغهٔ غوښتل چې د خپل ځان په خپله خیال وساتی او خېر غوښتل پرېږدی.



بیا عیسیٰ برتلمائی ته ووائی، څه، تهٔ خپل ایمان روغ کړې.



سمدستی هغه بینا شی او
عیسیٰ مسیح پسې روان
شی. او هغهٔ داسې
ووئیل، خدائ
پاک لوئ قدرت
واله دے چا
چې ما له شفا
راکړه! دا د
برتلمائی د پاره ډېر
د خوشحالئ وخت وو.





ټول خلق چې دا ووینی
نو د خدایٔ پاک ثنا صفت
وکړی. یو ځل بیا هغوئ
د خدایٔ پاک د زوئ
عیسیٰ لوئ قدرت ولیدو،
چې یو غریب ړوند خیر
مار یې بینا کړو.

# عیسیٰ ړوند له شفا ورکوی

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصهٔ

شته دے

مرقوس ۱۰، لوقا ۱۸، یوحنا ۹

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

50

60

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲